میوند

تاریخ ٦ / ١ / ٢٠٠٩

# د کرزي تر ټولو ستره او نه بښونکي تېروتنه

اشتباه او تیروتنه د انسان په خټه کې نغښتې ده ، کیداې شي له همدي امله وي چي انسانان نیمګړي بلل کیږي . خو علمي تجربو دا ثابته کړې ده چي دخطا او تیروتني ګراف د انسانانو د پوهي او علمیت له کچې سره معکوس تناسب لري ، هغه انسانان چي لږه پوهه لري ،ډېر تیروځي او هغه انسانان چي ډېره پوهه لري ، لږ تیروځي .

همداراز دتیروتني پایلي هم دتیروتونکي د تیروتني له کچې اود تیروتونکي له موقف او موقیعت سره مستقیماً اړه لري. که چیري یو دوکاندار تیروځي او لږه تیروتنه کوي ، د تیروتني پایله به یي داوي چي ګټه به ونهٔ کړي خو که همدا دوکاندار ډېره تیروتنه وکړي نو پایله به یي داوي چي د ګټې پر ځاي به تاوان وکړ. که چیري یو ډاکتر تیروځي او دتیروتني کچه یي ټیټه وي نو پایله به یي داوي چي ناروغ به روغ نه شي ، خو که د ډاکټر د تیروتني کچه هم لوړه وي نو کیداي پایله یي د ناروغ پر مړیني تمامه شي.

که دیوې اداري مشر تیروځي ، زیان به یي د هماغي اداري په کچه ملت ته رسیږي خو که یو وزیر تیروځي ، د یو رئیس په پرتله ملت او ولس ته زیان ډیروراوړي . هرڅوک چي هرڅومره لوړ مسوولیت لري له خپلي تیروتني سره په لوړه پیمانه زیان ملت او ولس ته اړولی شي نو د همدغه ساده او منطقي مقولې پر بنسټ ده چي په پرمختللیو ټولنو کي لوړ مسوولیتونه هماغه چاته سپاري چي د پوهي اوتجربې کچه یي لوړه وي ځکه دا ډول اشخاص لږ تیروځي.

په ځانګړې ډول د سیاسي پستونو په ټاکلو کي دا پرنسیپ تر ډېره مراعتیږي ځکه چي دسیاسي چارواکیو په تیروتني سره ولس ته کله نا کله نهٔ جبران کیدونکي زیانونه اوښتی شي، د ساري په توګه که د یوې سیاسي پارټۍ مشر تیروځي نو کیدای شي چي د ټولي سیاسي پارټۍ او یا هم ددې پارټۍ د یوې غټې کتلې د له منځه وړلو سبب شي خو که چیرته یو ولسمشر تیروځي زیان یي ټول ولس ته د تیروتني د کچې پر پرتله رسیږي .

په هرحال ددې لپاره چي له موضوع څخه بهر نه شو نو راځو اصلي موضوع ته او هغه د کرزي صیب تر ټولوستره او نهٔ جبران کیدونکي تیروتنه ده چي دکب دمیاشتي په ١٩ نیټه یي د ملي پخلاینې (!) تش په نامه طرحې ، خو په حقیقت کي جنګي مجرومینو ته د معافیت او دنوی ساه اخیستو سند لاسلیک کړ. کرزی صیب له پیله په تیروتنو سر و دا ځکه چي دی د پورته ذکرشویو معیارونو په نظرکي نیولو سره نهٔ بلکي د مصلحتونو پر بنسټ باندې د منځمهالي او بیا د انتقالي دولت مشري کوله او داچي ولي دی د ولسمشری په ټاکنو کي بریالی شو ،لومړی لامل یي داو چي دې ټاکنو په بشپړډول قومي بڼه درلوده او ټولو پښتنو کرزي ته خپلي رایي ورکړي، په هرولایت او ولسوالی کي د ټاکنو پایلو دا بڼه جوته کړه . برسیره پردې چي د کرزي یو مرستیال له پنجشیر او بل یي هزاره و ، مګر په ټول پنجشیر او بامیان کي یي لس رایي هم نه وې ترلاسه کړې . داچي پښتنو ولي کرزي ته خپلي رایي ورکړې ، لامل یي دانه و چي ګویا کرزي د


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

پښتنو ایډیال رهبر و بلکې دبد او بدتر ترمنځ د توپیر خبره په کې نغښتې وه ، دټاکنو په هغه اوړد لست کې ترټولو کاندیدانو کرزی ډیربد نه و.

په هرحال ددې لپاره چې په تیرو دریو لسیزوکې د جنګي مجرومینو دمعافیت مسئله مو ښه روښانه کړې وي ، تیرو دریو لسیزو ته یو ځلغنده نظر اچوو.

تیرو دریو لسیزو جګړو افغان ولس ته ډیر ځاني او مالي زیانونه واړول خو وروستنۍ دریمه لسیزه کې چې کوم درد او غم دې ولس لیدلی ، په تاریخ کې ساري نشته هغه ځکه چې په وروستۍ لسیزه کې جګړه مارو د عامو خلکوپه وژلو او د مال او عزت په لوټ کولو پسې راوخیسته او خپل زړونه یې ښه یخ کړل . کومې نخرې نه وې چې دوي د کابل پر ښاریانو ونه کړې ، د ژندویو انسانانو په سرونو یې میخونه ټک وهل ، ژوندي انسانان یې په تودو کانتینرونو کې واچول او وریته یې کړل ، دښځو پر عزتونو یې تیری وکړل ، ټول انساني کرامتونه یې تر پښو لاندې کړل او آن داچې پر مړو یې هم نڅاګاني وکړې . کله کله ددې جګړو په اړه خو سړی داسې حیرانونکې کیسې اورې چې عادي او نارمل انسان اومسلمان یې د اوریدو زغم هم نه لري ، د کابل ښار دا وراني کنډري او په وینو لړلي دیوالونه ددې خبرو مستند ثبوتونه دي .

ددې جنګسالارانو دهمدې جنایتونو انتها وه چې د طالبانو د رژیم په راوستو او ټینګیدو کې یې هم مثبت رول ولوباوه . په اکثرو ولایتونو کې خلکو طالبانو ته لبیک او ښه راغلاست ووایه ځکه چې دهغه وخت د ظالمو حاکمانو د شر نه په امان کې پاتې شي .

دسپتمبر یوولسمې نیټې پیښې د افغانستان حالت یو بل پړاو ته ورننه یوست او هغه د طالبانو د رژیم نسکوریدل او پر ځای یې د مؤقتې ، انتقالي او بیا دجمهوري (!)اداري رامنځ ته کیدل و .

افغان ولس په دی تمه و چې نن دی که سبا مونږ به ټول په امن کې ژوند کوو ، ځکه چې ټول جنګي مجرومین به محاکمه شي او هغه ځکه چې دا دنړیوالو کنوانسیونو غوښتنه ده او افغانستان هم اوس دنړیوالې ټولنې یو غړی او اوس خو امریکا او ورسره د ټولومتحدینو او نړیوالې ټولنې پوځیان راغلي او له بله پلوه افغانستان ددې ډول نړیوالو ټرنونو له لاسلیک کونکو څخه دی . وطن به پرمختګ وکړي ، په هرکور کې به برق وي ، دڅښلود پاکو اوبو نلونه به وي ، پاخه سړکونه به وي ، روغتونونه او ښوونځي به ولرو، دتیرو رژیمونو پرخلاف په دولتي پستونو کې به خلک د لیاقت او وړتیا له مخې ټاکل او...

خو افسوس افسوس چې داسې هیڅ کارونه شو چې خلک حداقل خپلو ارمانونو ته هیله من کړي هغه ځکه چې جناب کرزي له اوله په تیروتنوسر شو . کرزي صیب لومړنۍ تیروتنه هغه وخت وکړه چې دی کله د بیړني لویې جرګې تالار ته راننوت نوټول جنګسالاران چې د بګیل شویو مړزانو په څیر په اخیرو کتارونو کې ځانونه را ایسارکړي وو ، داسې خطاب وکړ: ( آه آه دا څه حال دی ټول جهادي مشران او رهبران په شاته کتارونو کې ناست دي ، هلئ ژر شئ مخ ته


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

راشي) همدا وچې کرزي صيب د مجاهد ، کمو نست او جنګسالار ترمنځ هيڅ ډول توپير ونه کړ د کرزي صيب همدې تيروتنې د جنګسالارانو په مړه وجود کې ساه واچوله او لکه د تېپې شويو زمريانو په څير را وخوځيدل او هغو ميرمنو چې لړ شيبه مخکې يې په دوي باندې لعنت وايه او دبوټونو ګزارونه يې پرې کړي وو ، بد بد ورته کتل ، غاښونه يې چيچل اوکيداي شي په زړه کې يې ويلي وي چې اوس خو مو والله که پريږدو . تاسې باور وکړئ چې تر دې دمخه له دې جنګسالارانو څخه نور دتيښتې لارورکه شوې وه چې اوس په کومه خوا پښې سپکې کړي.

په هرحال جنګسالارانو ته خدای ښه موقع په لاس ورکړه او دوی هم ترينه دځان په ګټه ښه استفاده وکړه آن چې د بيچاره کرزي کابينه او د مشاورينو ډيره برخه له همدي جنګسالارانو څخه ډکه شوه .

تر ټولو ډيره په زړه پورې خبره خو داده چې ازبک قوماندان رشيد دوستم هم د جهادي رهبرانو په کتار کې راغی . ترکومه ځايه چې زه معلومات لرم ، دوستم له خپلو مليشاوو سره د مجاهدينو تر راتګه پوري د داکتر نجيب الله د حکومت په ملاتړ له مجاهدينو سره جنګيدل . د هغوی مليشه د ګلم جم ( تغرټول ) په نامه ياديدل ، په هرځاي کې چې به د مجاهدينو جګړه ايز عمليات ډيرشول هلته به يې ګلم جم ورليږل چې د مجاهدينو ګلم ( تغر )ور ټول کړي . سړی خو نشي کولای چې په يو وخت کې هم شهيد شي ، هم غازي شي او هم روغ رمټ بيرته راستون شي نو ځکه دوستم نه شي کولای چې هم کمونست او جنګسالار شي هم مجاهد . ده هيڅکله جهاد نه دی کړی بلکې مجاهدين يې شهيدان کړي او د غلا او لوټولو سترقهرمان پاتې شوی دی ، د يادونې وړ ده چې دی د ډيرې ټيټې تعلمي سويې خاوند دی . وايې چې کومې ټلويزيونې شبکې له دوستم سره مرکه درلوده ، د مرکې پر مهال مرکه کونکي ورڅخه وپوښتل چې خلک وايي چې تاسي نالوستي ياست او تر دريیم ټولګي مو لوست کړي ؟ وايي چې دوستم تک سور واوښت او ويې ويل چې دا دښمنانو تبليغات دي کنه ما خو تر شپږم ټولګي مکتب لوستی دی.

په هرحال کرزی په خپلوډيرو پريکړو کې تيروتلی دی او هغه ځکه چې ازمويلې يې بيا ازمويلي دي ،دده بله ستره تيروتنه دا وه چې دخپلې کابينې د غړو معيار يې دپوهې او مسلکي توب پرځای قومي او تنظيمي اړيکې وټاکلې او د يو مسلکي کابينې پر ځای يې يوه مصلحتي کابينه رامنځ ته کړه چې حتی دکابينې ځينو غړو خو د کرزي صيب له حکم او لاسليک څخه دخپل تنظيم او قوم دمشر لاسليک او ټلفون ته ډيرارزښت ورکاوه او هغه ځکه چې دهمدې تنظيمي مشرله برکته خو اوس د وزارت پرکرسۍ ناست دی او راج کوي . د سياسي قدرت ويش خو ان د ولسواليو او کليو پرکچه هم قومي او تنظيمي تړاو درلود او دارنګه دقدرت ويش ترهرڅه زيات ملي ګټو ته زيان رسونکي تمام شو .

دکرزي صيب همدې معيار په خلکو کې د وطن دوستۍ او له وطن سره د مينې روحيه لاپسې کمزورې کړه او په خلکو کې يې د نفاق ا وعچ اخيستلو احساس بيا راژوندی کړ . همدا لاملونه وو چې دخلکو او دولت ترمنځ واټن مخ په ډيريدو شو ان تردې چې اوس خو خلک د دولت مخالفينو ته بې له کوم ډار او ويرې څخه پناه ورکوي ، له هغوی سره هرډول مرستې کوي او خواخوږي ورسره لري.

په هرحال اوس راځوخپلې اصلي موضوع ته او هغه د کرزي ترټولو ستره تيروتنه ده .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

کیدای شي یو له سترولاملونوڅخه چې کرزی دملي مصالحې (!)دا سند لاسلیک کړ ، داوي چې دی غواړي په افغانستان کې امن او امان راشي ، خو کرزي صیب دا هیر کړي چې عدالت او امنیت داسې دوه سره تړلي او پیچلي پدیدې دي چې په یوازې توګه یې یوهم نشي پلي کیدای . چیرته چې عدالت نه وي هلته هیڅکه امنیت نشي راتلای.

که چیرته دوي ( جنګسالاران ) دا دملي مصالحې په نامه ډرامه د جنوبي افریقې د سولې دپلان سره تشبیه کوي نو په کارده چې دوی هم په خپلو کړیو جرمنو اعتراف وکړي ، له خلکو څخه دې ببښنه وغواړي ، خلکو ته د اوښتو زیانونو جبیره دې وکړي ، او په راتلونکي کې دې هم د قدرت دلرولو دعوه نه کوي . مګر دوی خو نه اعتراف کوي ، نه چاته جبران خساره ورکوي ، نه له قدرت څخه ګوښه کیدل غواړي اونه هم له خلکو څخه ببښنې ته تیاردي برعکس دوی په زوره دخپل ځان دمعافیت سند په خلکو لاسلیک کوي.

که چیري دوی دومره د ملي مصالحې طرافدار وای نو ولې یې د ډاکتر نجیب الله د ملي مصالحې پلان ونه مانه ، که یې منلی وای نونه به اوس دا وطن دومره تباه وای ، نه به مو افغانان دومره درپه در، خاورې په سر وای ، نه به مو نړی ته د سوال لاس اوږود وای او نه به راته اوس دومره کونډې او یتیمان پاتې وای.

کرزی صیبه ! تاسره چې اوس د ټولې نړیوالې ټولنې ملاتړ حاصل دی او عملاً د ۳۵ هیوادونو پوځیان درسره دي او ستا له حکومته ملاتړ کوي . په داسې یو وخت کې تاسې جنګي مجرمینو او دبشري حقونو ناقضینو ته دسزا ورکولو پرځای هغوی پر رنځیدلو خلکو باندې وزیران ، والیان او رئیسان مقرروئ ، او اوس هغوی ته د معافیت سند لاسلیک کوئ . که چیرته تاسې یوازې وای ، نو کیدای شي چې ټول افغانان مو د دوی مریان ( غلامان ) کړی وای او دبشر په تاریخ کې مو یو ځل بیا دمریي توب جنډه پورته کړې وای .

کرزی صیبه ! دوی د مکې معظمې او مسکو قسم خوړلي دي ، دوی د تل لپاره خپلې شخصي او تنظیمي ګټې پر ملي ګټو بره ګڼلې دي . په افغانستان کې خو قحط الرجال نه و بلکې د افرادو د تفکیک او پر هغوی باندې د باور خبره وه اوبس ، اما تاسې داسې ونه کړ ، دا مظلوم ولس په څومره ارمان او هیلو تاسې ته خپله رایه درکړه اما تاسې یې په بدل کې دې مظلوم ولس ته څه ورکړل ،همدا چې د هغوی د پلرونو ، میندو ، ورونو او خویندو قاتلان مو پر هغوی حاکمان مقرر کړل او اوس خو مو لا ورته د معافیت سند هم لاسلیک کړ .

کرزی صیبه ! تاته به معلوم وي او که نه خو په خدای باور وکړئ چې ختیځو او جنوبي ولایتونو کې داسې کورنۍ وي چې ښځي یې د لومړي ځل لپاره له کوره ووتې او تاته یې رایه درکړه چې ګوندې دوی به د جنګسالارانو له شراو فساد څخه خلاص کړئ خو تاسې ورته په بدل کې څه وکړل!!!

کرزی صیب ! په خپله درکړې رایه دې سخت پښیمانه کړم


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de